# د ورمو نخښي

(د جهاد ادبي کتابښود)

حبیب الله رفیع

۱۳۶۹

Ketabton.com

# د وږمو نخښې

## (د جهاد ادبي کتابښود)

لومړی ټوک

حبيب الله رفيع

١٣٦٩

Ketabton.com

دکتاب نوم: د وږمو نخښې
(دجهاد ادبي کتابښود) .

ليکوال: حبيب الله رفيع .

خپرونکی: دافغانستان اوسنۍ ادبيات دسيمينار سکرتريت.

خطاط: نورالدين "هنريار" .

دخپرېدو کال: ١٠/٧/١٣٦٩ـ ٢/٩/١٩٩٠

Ketabton.com

بسم الله الرحمن الرحيم

# سریزه

[ ١ ]

د تاریخ په واټ کښې د انسان د پښو پلونه هغه وخت پاتې شول چې لیک یې اختراع کړ او هم دا د لیک اختراع د بشر د تاریخي دورې ابتداء هم شوه او له دې ورځې نه د انسان تاریخ پیل شو، ولیکل شو، له یوه نسل نه بل نسل ته ولېږدول شو او د انسانانو د تجربو د انتقال له پاره ډېره ښه وسیله رامنځ ته شوه او ډېر زر ورسره په ډبرو، د ښارو په پوستکو، پاپیروس او بیا کاغذ د پیغامونو، رازونو، پندونو، رپوټونو او تجربو لیکل او خوندي کول هم رامنځ ته شول.

هو! د خط اختراع د بشر په تاریخ کښې یو لوی انقلاب و، یو بنسټیز انقلاب و، یو ژور او رښتیني انقلاب و او بالاخره یو د ټولو انقلابونو مور انقلاب و.



Ketabton.com

د خط له اختراع نه لږ وروسته کتاب هم ستر کې

وغړولې او دخط په غیږ کښې د رانغښتل شوو مفاهیمو د

ساتلو، خوندي کولو او لیږدولو یوه ښه وسیله وګرځېد .

ورو- ورو کتابونه زیات شول، خواره شول، وسیع شول،

له ځانه- ځانه موضوعاتو ته ځانګړي شول او د ژوند ځانګړو- ځانګړو

ې وڅیړلې او وڅېړلې .

په همدې بهیر کښې وخت په وخت علومو، فنونو او

د هغو څانګو او ښاخونو وده وکړه او انسانانو تخصصي زده کړو

او پوهنو ته لاس وغځاوه، د دې پوهنو د آسانۍ او د هغه

د لیوالانو د معلوماتو او خبرېدنې له پاره کتابپوهنه رامنځ

ته شوه، کتابښودونه او د کتابو فهرستونه جوړول پیل

شول او همداوه چې د کتابپوهنې په کور کښې د ببلیوګرافۍ

یا کتابښودنې فن ته توجه وشوه، وده یې وکړه او اوس

په نړۍ کښې دا فن تر ټولو فنونو وړاندې دی او د همدې

فن په رڼا کښې نور علوم او فنون ترتیب، نظم او رونق مومي

او د آسانۍ استفادې، ژر استفادې او مسلکي استفادې

له پاره لاره هواروي .



Ketabton.com

افغانستان د آسیا او حتی ختیځ د کتاب لیکنې یو مهم مرکز دی، د لته له زړ هاؤ کلونو را هیسې دینې، اجتماعي، فلسفي طبي او نورو په زرهاؤ ښو که کتابونه لیکل شوي او ترسل کلونو یات عمر کیږي چې په دې هیواد کښې په زرګونو کتابونه خپاره شوي . و یشل شوی او د علاقمندانو لا سونو ته رسیدلي دي .

د اجتماعي ګډوډیو، د پردو دیرغلونو، د کورنیو جګړو او نورو ستونځو له امله دا لیکل شوی او دا خپاره شوي کتابونو هم داسې خوارۀ واره، په تحویلخانو کښې ورک، په کوښو کښې او له نظر نه لرې پراته وو، چا ته یې سمه پته نه وه او چا نشوای کولای چې خصوصاً د افغانستان د چاپي کتابونو او آثارو پانګه ځان ته معلومه کړي .

په تیره نیمه پیړۍ کښې د هیواد پوهانو او عالمانو دا ضرورت درک کړ او د کتاب لیکنې، کتاب چاپونې او کتاب ساتنې ترڅنګ یې کتابشناسي - کتابښنود او ببلیوګرافي هم پیل کړه او د هیواد د چاپي او خطي آثارو یو شمیر کتابښنودونه په پښتو، دري او انګلیسي ژبو خپاره شول او دا زرینه سلسله

ح

لا دوام لري. او دا کتابنود ونه لاخپرېږي.

[ ۳ ]

ماچې کله لیکوالي پیل کړه زما ذوق ساحه د هېواد د لیکوالو او د دوی د آثارو او خصوصاً د پښتو له ادبي خزانو او معنوي شتمنیو سره وه نو له همدې امله کتابنود هم زما د کار د پیل له موضوعاتو څخه و، په دې لړ کښې مې لومړنۍ مقاله د پښتو پر یوه دیني سپېڅلي کتاب "ذخيرة القراء" پر ۱۳۴۲ کال کښې وکښله چې آر یانا مجلې خپره کړه، او "د پښتو څوانۍ تذکرې" په دې سلسله کښې زما لومړنۍ تالیف و چې تاریخ ټولنې په ۱۳۵۰ کال نشر کړ، په ۱۳۵۱ کال کښې مې د تاریخ ټولنې له خوا د خپرو شوو کتابونو کتابنود "د تاریخ ټولنې کتابونه" په نوم وکښښ، په ۱۳۵٤ کال کښې مې د پښتو خېړنو د لومړني سیمینار له پاره د "پښتو پانګه" په نوم د پښتو د پنځوسوو ټوکو چاپي کتابونو معرفي ولیکله چې د هغې وخت د پښتو ټولنې په همدې مناسبت چاپ کړه، بیا مې د دې کتاب دوهم ټوک په ۱۳۵٦ کال کښې د پښتو د چاپي آثارو سیمینار ته لیک او خپور کړ او په همدې کال او همدې مناسبت د "پښتو کتابنود" لومړی



Ketabton.com

ټوک چې تر یو نیم زرزیات پښتو چاپي کتابونه مې پکښې فهرست کړي وو، لیک او د بیهقي کتاب خپرولو موسسې خپور خپور کړی او ورسره یې د پښتو موقوتو خپرونو پیژندګلوي د «پښتو خپرونې» په نوم په کتابي بڼه ولیکله چې په همدې کال او همدې مناسبت د پښتو د پراختیا او پرمختیا د ریاست له خوا په کتابي بڼه خپره شوه، په انفرادي ډول مې هم د هېواد په مجلو او ورسالو کښې په لسهاو کتابونه معرفي کړل او هم مې په ۱۳۵۲ کال کښې د بایزید روښان د سیمینار له پاره د روښاني لیکنې رساله ولیکله چې بیا د آریانا مجله سربېره په «روښان یاد» کښې هم خپره شوه او هم دلته په پېښور کښې د ارزانی خویشکي ادبي ټولنې له خوا په کتابي بڼه چاپ شوه، د خواجه عبدالله انصاري کتابښود او څینې نور کتابښودونه هم د دې لړې کړې دي.

... او په دې توګه کتاب پېژندنه زما د کار یوه ساحه شوه، یوه څنډه شوه او یوه ګوښه او تل دا تلوسه راسره وي چې په دې ګمتوره لاره کښې کار وکړم او د علاقمندانو د استفادې له پاره مواد راغونډ کړم.


Ketabton.com

کله چې د مهاجرت په کاروان کښې پېښور ته راغلم دلته کار ترهغې ځای نه هم کړی وو، په حزبونو پورې د تړلو او آزادو فرهنګي مرکزونو او دفاترو اکثره چارې د غیرفني اشخاصو له خوا ترسره کېدې، په کتاب، رساله او حتی جریده به د چاپ کال نه لیکل کېده او تر چاپ وروسته به نه ویشل کېدل او چا ته به نه رسېدل، اکثرو به دا عموم اسناد (؟) بلل او چا ته به یې نه ورکول، په دې باب زما یوه خاطره ده یوه حزب ته مې د هغه د چاپي مرام تر لاسه کولو له پاره سرې ورلېږلی څو د فرهنګي دفتر موظف شخص ځواب ورکړی و چې داخو «زمونږ د حزب اسرار دي چا ته یې نشو ورکولای» (؟). له بلې خوا ګوندي تنګنظرۍ هم د دې باعث وې چې د ځینې ګوند ونوخپرونې دې ادهر چالاس ته ونه رسېږي.

په دې بې نظمۍ او ګډوډۍ کښې هم زیاته اړه وه چې کتابښودونه او معرفي نامې ولیکلې شي خو له نېکه مرغه دې ته توجه وشوه، په دې باب به ګټوراود یادونه وړ اثر زما ګران دوست ښاغلی قاضي الحاج عبدالباري غیرت وکښېږ

و

Ketabton.com

چې د پېښور پوهنتون اېريا سټډي سنټر وروسته نشر کړا و
بيا يې له بشپړې زياتونې سره د "آثار چاپي در معضلهٔ
افغانستان" په نوم په خپل لګښت خپور کړ چې د دري - دري
نيم سوو عنوانونو موقوت او غير موقوت جهادي آثار پکښې
معرفي شوي وو. په همدې لاره کښې نور ګامونه هم
واخيستل شول او نور کارونه هم وشول.

خو بيا هم ديوې منظمې معرفي، مشخصې معرفي
او ورپسې د اختصاصي او موضوعي معرفي ځای تش و او
زه په دې فکر کښې وم چې په دې لاره کښې کار وکړم
او د جهاد د سنګر خواره واره آثار سره راغونډ او معرفي
کړم، کار روند و وخو زما علاقه جدي وه او په همدې
ترڅ کښې د افغانستان د جهاد ثقافتي شورى په ١٣٦٦
کال کښې د افغان جهاد مجله تاسيس کړه او زه چې د دې
مجلې د ليکوالي د پلې غړی وم نو لومړی مې د هغو کتابونو د
معرفي له پاره يوه برخه پکښې پرانيسته چې نوي به خپريدل
او زما لاس ته به رارسيدل او د دې ترڅنګ مې د "جهادي
پانګه" او "هزينهٔ جهاد" د عمومي کتابښود له پاره
د کارتونو په تهيه کولو کوټې پورې کړې چې کار يې اوس



Ketabton.com

هم دوام لري .

[ ۵ ]

« دافغانستان د اوسني ادبيات » د سيمينار علمي مجلس پريکړه کړې وه چې د دې سيمينار په مناسبت دې د جهاد پر ادبي کتابښود ولیکل شي ، پر ما يې غږ وکړ ، ما له يوې خوا د ميني او علاقې له امله او له بلې خوا دا چې کار مې په جريان کښې و ، دا امر و ما نه او له عمومي کارتونو نه مې د ادبي آثارو کارتونه را بېل کړل . ما په او له کښې غوښتل چې د دې کار له پاره يوازې هغه آثار را بېل کړم چې معيار ولري او د « ادبي » تورنوم ورته واخيستلای شو خو له بده مرغه له يوې خوا دا سې آثار ډېر لږ وو او له بلې خوا زما کار انتقادي نه و چې د کره او ناکره جاج يې واخلم او د رطب او يا بس بېلتون يې وکړم نو ځکه ما وپتيله چې په دې کتابښود کښې ټول هغه آثار راوړم چې د جهاد په دوولس کلنه دوره کښې چاپ شوي او په يوه ول له ډولونو له ادب سره اړيکې پيدا کوي او يا يې يوه برخه ادبي مطالب ګڼلای شو . نو له همدې امله په دې آثارو کښې تشې کیسې او حکايات هم شته ، تش راپورونه او يادداشتونه هم



Ketabton.com

شته ، غیرجهادي ادبي آثار هم شته تذکرې، تبصرې او د شهیدانو یادونې هم شته او ما په دې وسیله غوښتل چې د دې دورې داد بیاتو د څېړونکو له پاره هر څه مخې ته کښېږدم څو دوی د خپلو څېړنو په وخت کښې د وچو او لندو د معلومولو له پاره پوره پیمانه او ذخیره ولري.

ما مخکښې عرض کړې وو چې د جهاد په ساحه کښې اکثره نـرهنګي کارونه د غیرفرهنګي کسانو په لاس شوي، په همدې ډول ډېر ادبي کارونه د؟، هم له ادب سره د نابلده کسانو له خوا ترسره شوي او حتی همداسې کسانو شاعري هم کړې، کیسې یې هم لیکلې او دادب دونې په نورو څانګو کښې هم ختلي خو کار او متاع یې د ادب رنګ، بوی خوند او مزه نه لري.

په هرحال زما کار لکه ومې چې ویل انتقادي نه دی د موادو راغونډول دي نو ځکه په دې اثر کښې بې سوې او سوه په لرونکي دواړه ډوله آثار معرفي شوي او په "څرنګوالی" کښې مې یې د ښه او بد قضاوت نه دی پرې کړی. همدا راز په دې برخه کښې ډېر آثار یاتې هم



Ketabton.com

دي او د سيمينار سکرتريت زمينه کړي چې د دې اثر دوهم ټوک به هم خپروي يا نو ځکه هغه دوهم ټوک ته پاتې شول او د اوس له پاره ستاسو لاسو نو ته لومړی ټوک در رسيږي.

زه له دې يادونې او معذرت نه سره له تاسو اجازه غواړم!

په درنښت

**حبيب الله رفيع**

آبدره رود، پېښور

۱۳۶۹/۷/۲



Ketabton.com

[ ۱ ]

## د آزادۍ جذبه

مؤلف او شاعر: محمد ابراهیم تهکر حاجي

خپروونکی: په خپله

د خپریدو کال: ۱۳۶۷ - چونکابش

مخونه: ۱۹۰

کچه: ۱۴×۲۱ سم.

ځرنګوالی: د شاعر د جهادي پارونکو او هڅوونکو شعرونو مجموعه ده.

[ ۲ ]

## د آزادۍ مشال

شاعر: محمد هاشم زماني

د خپریدو کال: ۱۳۶۴

کچه: ۱۴×۲۱ سم.

مخونه: ۱۸۴

ځرنګوالی: د شاعر د وطن په یاد او د آزادۍ په لاره ویل شوي شعرونه دي چې په پېښور او د اروپا په سفر کښې یې ویلي دي.



Ketabton.com

[۳]

## آزردګی معاف

لیکوال: چوکیدار- د ده افغانانوله کوچۍ څخه.

خپرونکې: د بصیرت مجلې اداره.

دچاپ نېټه: ۱/ ۱۱/ ۱۳۶۸

کچه: ۱۶ × ۲۱ سم.

مخونه: ۱۵۵

څرنګوالی: دادبي سکوندنو (طنزونو) مجموعه ده چې دمهاجرت دژوندانه او د ټولنیزژوند ځینې اړخونه یې تر اجتماعي نقد لاندې نیولي دي.

[۴]

## آموزګار نور و رهایی

خپرونکې: دافغانستان اسلامي حزب، دشهادت جبهه

مرتب: محمد طاهر محبوبیار

دچاپ کال: ۱۳۶۶ - غویی.

کچه: ۱۲×۱۸ سم

مخونه: ۵۳

څرنګوالی: «د ډاکتر محمد عمر شهید په باب د مقالواو



Ketabton.com

منظومو مرثیو مجموعه ده ".

[۵]

## آنجا که عاطفهٔ بشر دوستی بر مهر مادری چیره میشود

مؤلف : س . ن . حسینی .

خپرونکی : دافغانستان د جهاد ثقافتي شوری .

دخپریدو نیټه : ۱۳٦۷ - لیندی

کچه : ۱۲ × ۱۸ سم .

مخونه : ۳۱

څرنګوالی : دعبدالقادر نومی افغان مجاهد د تداوی کیسه ده چې په سلوکښې اتیا یې د بدن پوستکی دناپالم بم سوځولی ؤ او بیا یوه جرمنی مور حاضر یږي چې د خپل ځوان زوی پوستکی (چې په ټرافیکی حادثه کښې مړ شوی ؤ) ورکړی او دا مجاهد ځوان د دې د زوی په پوست و پوښي .

[٦]

## دا احساس انځور

مؤلف : خلیل الله مستین .



Ketabton.com

خپروونکی: افغان پریس انټرنیشنل، کوټه.

دخپرېدو کال: ۱۳۶۴

کچه: ۲۱×۱۴ سم

مخونه: ۷۲

ځرګنوالی: دشاعر هغه شعرونه او ویرنې دي چې دخپل مظلوم شهید زوی حمیدالله متین په یاد کښې یې ویلي او لیکلي دي.

[ ۷ ]

## ادبي او ښکي

لیکونکی: عبدالباري غیرت

خپروونکی: په خپله

دخپرېدو کال: ۱۳۶۳- وری

کچه: ۱۸×۱۲ سم.

مخونه: ۲۶

ځرګنوالی: په افغانستان کښې یې د روس استعماري سیاست دادبي ټوټو په ترڅ کښې په ادبي ژبه بیان کړی دی.

Ketabton.com

[ ۸ ]

## اژدهای خودی

(۴ ټوک)

سرمنزل آزادی

لیکوال: پوهاند دوکتور سید بهاءالدین مجروح

خپرونکی: دافغانستان دمجاهدو لیکوالو ټولنه.

دچاپ کال: (۱۳۶۸) - (دوهم چاپ).

کچه: ۱۴×۲۱ سم.

شمیر: ۳۰۰

څرګندوالی: په ادبي ژبه د ټولنیزي روانشناسي ژور بحث دی چي د دي اثر ټوره سلسله تعقیبوي او په دي څلورم ټوک کښي دنیمي شپي لاروی د خپلوالی د منزل په لټه کښي دی.

[ ۹ ]

## افغانستان آزادیږي

لیکونکی: انقلاب (عبدالباری غیرت).

دخپریدو نیټه: ۱۳۵۹ - لړم.

کچه: ۱۲×۱۸ سم.



Ketabton.com

مخونه : ۳۱

ځرنګوالی : دشاعردلومړنیوجهادي شعرونویوګوچنی مجموعه ده .

[ ۱۰ ]

## دافغانستان پرخلکو دروس د نوکرانوحکومت دحقیقتونوپه رڼا کښي

لیکونکی : همت .

دخپرېدو وخت : ۱۳۵۸- غوبي .

کچه : ۱۸×۱۲ سم .

مخونه : ۸۴

ځرنګوالی : دتره‌کي دحکومت په ځېره خبرې کوي او دلیکوال دنیول کېدو یادداشتونه اوخاطرې دي .

[ ۱۱ ]

## دافغانستان داسلامي ملي انقلاب دشروع اشعاراودجهادعجایب اوغرایب

تصنیف : دغلام الله ایمان صافی

دچاپ نېټه : ۱۹۸۲/۶/۶



Ketabton.com

کچه: ۱۸×۱۲ سم .

مخونه: ۱۷٦

څرنګوالی: دکتاب لومړۍ برخه دلیکوال دوینا له مخې اشعار او دوهمه برخه یې دجهاد ځینې پیښې او وقایع دي چې دلیدونکوله خولې لیکل شوي دي .

[ ۱۲ ]

## افغانستان در آتش

ژباړن: جګتورن سید محمد مصطفی .

خپرونکی: دافغان جهاد دآثارو دژباړې کانون .

دچاپ نېټه: ۱۳٦۷ - وری .

کچه: ۱۲×۱۸ سم .

مخونه: ۱۵۴

څرنګوالی: دروسیې دفراري عسکرو مرکې: لومړۍ برخه د شوروي عسکر کیسه کوي ، دوهمه برخه د نړیوالو مؤسسو ډاکتران شهادت ورکوي ، دریمه برخه جنګ دافغانانو له نظره ، څلورمه برخه د یرغلګر هېواد خلک انتقاد کوي .



Ketabton.com

[۱۳]

## په افغانستان کښې د وينو سيلاب

ليکونکی: عبدالمحمد مموزی.

کچه: ۱۲ × ۱۸ سم.

مخونه: ۸۴

ځرنګوالی: د دوبندي، لوګر، ازرې، حصارک، وردګو، نرخ، ميدان، جلريز، د هزارجات د بهسودو او ځينو ځګړې خېرې. رساله د سفرنامې په بڼه کښل شوې ده.

[۱۴]

## د الفت خبرې

وينا وال: ارواښاد استاد ګل پاچا الفت.

خپروونکی: ډاکټر عبدالرحمن الفت.

د خپرېدو کال: ۱۳۶۷ - زمری.

کچه: ۲۱ × ۱۴ سم

مخونه: ۱۶۹

ځرنګوالی: د استاد الفت د ژوند د وروستيو کلونو د شعرونو مجموعه ده چې د ده د لوړو فکرونو او ژورو خيالونو ځرګندويې کوي او پاخه سياسي نکات او پېشګويې لري.



Ketabton.com

[۱۵]

## امروز زدایی برای فردا

د: ن، لاجوردینشهری.

خپرونکی: دافغانستان اسلامي جمعیت.

دچاپ کال: ۱۳٦٦ - مرغومی.

کچه: ۱۲×۱۸ سم.

مخونه: ۲۹

څرګنوالی: د سبا په باب فلسفي اوادبي بحث دی، په دې برخه کښې یې دحافظ او اقبال نظر څېړلی او وایی چې مون باید سبا ته خوشبین واوسو او د سبا د روښانتیا به په تکل کښې وو.

[۱٦]

## انجام

ویناوال: حبیب الله رفیع.

خپرونکی: (دامان کتاب خپرولو مؤسسه).

دخپریدو کال: (۱۳٦۳).

کچه: ۱۲×۱۸ سم.

مخونه: ۴۸



Ketabton.com

ځرګندوالی : د شاعر د جهادي غزلو مجموعه ده .

## [ ۱۷ ]

## اندېښني

لیکونکی : سید محمد شفیع ( سپاهی گمنام ) .

د خپرېدو کال : ۱۳٦۷ هـ ش .

کچه : ۱۲ × ۱۸ سم .

مخونه : ۵۹

ځرګندوالی : د نباغلی لیکوال د پښتو او دري نثر او نظم مجموعه ده چې جهادي مطالب پکښې رانغښتل شوي دي .

## [ ۱۸ ]

## انصار شاعران

لیکونکی : عبدالباري غیرت .

د چاپ کال : ۱۳٦۵

کچه : ۱۲ × ۱۸ سم .

مخونه : ۳۴

ځرګندوالی : یوه بوالله ده چې د هغو انصارو شاعرانو نومونه يې پکښې یاد کړي چې د افغانستان د جهاد او مقاومت په اړه يې شعرونه ویلي دي .



Ketabton.com

[ ۱۹ ]

## دانقلاب غوغا

لیکونکی: دیدار احمدزی .

دخپرېدو کال : ۱۳٦۷ - لیندی

کچه : ۱۲ x ۱۸ سم .

مخونه : ۱۰۳

څرنګوالی : دشاعر دیني، جهادي او د مهاجرت د محیط انځوروونکي شعرونه دي .

[ ۲۰ ]

## د اور باران

شاعر: امان الله نصرت

دچاپ کال : ۱۳٦٦

کچه : ۱۲ x ۱۸ سم

مخونه : ۸٦

څرنګوالی : د شاعر د جهادي شعرونو مجموعه ده چې د مهاجرت او جهاد دچاپېر وېرمن او ویاړمن مطالب یې پکښې ادبي کړي دي .



Ketabton.com

[ ۲۱ ]

## د اور ترانې د ژوند شعرونه

مؤلف: الحاج ننګيال.

خپرونکی: فرهنګ جهاد

د خپرېدو کال: ۱۹۸۹- فبروري.

کچه: ۱۴×۲۱ سم.

مخونه: ۲۶۰

څرنګوالی: د صوبه سرحد او بلوچستان د هغو شاعرانو شعرونه پکښې راغونډ شوي چې د افغانستان د جهاد په اړه او د افغان مسلمان ملت په ملاتړ کښې يې ويلي، په همدې اړه يوه تحليلي سريزه هم لري.

[ ۲۲ ]

## اورونه او ويرونه

وېناوال: حبيب الله رفيع.

خپرونکی: د امان کتاب خپرولو مؤسسه.

د چاپ کال: ۱۳۶۳

کچه: ۱۲×۱۸ سم.

مخونه: ۲۰۴



Ketabton.com

څرنګوالی: د شاعر د جهادي وينا آزاد نظمونه، نظمونه غزلې، قصيدې او قطعې پکښې راغلي دي او د غوايه د کودتا په اړه يوه مشاهده د سريزې په توګه ورسره مله شوې ده.

[۲۳]

## باروت خبرې کوي

ليکوال: ح. وحدت وردګ.

خپروونکی: د افغانستان غزني د ولايت د اطلاعاتو اداره.

د چاپ نېټه: ۱۳۶۸ - دلو.

کچه: ۱۸×۱۲ سم.

مخونه: ۱۳۳

څرنګوالی: مجاهدينو ته د تسليم شويو لوړپوړو خلقيانو او پرچميانو اظهارات، اعترافات او انکشافات دي چې په خوږه ادبي ژبه راغونډ شوي دي.

[۲۴]

## بارود او ايمان

ويونکی: عرفان خټک، ډاکوره خټک.

د اشاعت نېټه: ۱۹۸۷ - جولای.



Ketabton.com

کچه: ۱۲ x ۱۸ سم.

مخونه: ۷۵

ځرنګوالی: دا نصار شاعر هغه شعرونه دي چې د افغانستان د جهاد، انقلاب او هجرت په اړه یې ویلي او د هغو شهیدانو په نوم یې اهداء کړي چې د اسلام د یوې په خپله وینه روښانه کړې ده.

[۲۵]

## بانګ رحیل

ویناوال: سید اسحق دلجو حسیني.

خپرونکی: د شفق مجلې اداره، د افغانستان اسلامي حزب.

د خپریدو کال: ۱۳۶۷ - چنګابن.

کچه: ۱۴ x ۲۱ سم.

مخونه: ۲۰۷

ځرنګوالی: د شاعر د جهادي او تر جهاد وړاندې شعرونو مجموعه ده.

[۲۶]

## بزم شاعر

مرتب: محمد اکرام اندېشمند.



Ketabton.com

خپرونکی: د دعوت او ارشاد وزارت، د مطبوعاتو عمومي رياست.

د چاپ کال: ۱۳۶۹- د وری اول.

کچه: ۲۱×۱٤ سم.

مخونه: ۵۹

ځرګندونې: د هغې مشاعرې د پښتو او دري اشعارو مجموعه ده چې د جهادي ننداریتون په ترڅ کښې د پېښور په نشتر هال کښې جوړه شوې وه.

[۲۷]

## بموونه او غمونه

ویناوال: څېړنمل محمد عارف غروال.

خپرونکی: د افغانستان ملي اسلامي محاذ.

د خپرېدو کال: ۱۳۶۷

کچه: ۲۱×۱۴ سم.

مخونه: ۱۱۲

ځرګندونې: د شاعر د جهادي او هېوادي شعرونو دوهمه مجموعه ده.



Ketabton.com

[۲۸]

# بهار بخون نشستګان

وینا وال : استاد خلیل الله خلیلي .

خپرونکی : دکابل ولایت د جند الله قرارګاه .

دچاپ کال : ۱۳٦۷

کچه : ۱۲×۱۸ سم .

مخونه : ۱٦

څرګنوالی : دافغانستان د مهاجرینو دعلمي مرکز له خوا د استاد خلیلي یو شمیر جهادي شعرونه پکښې انتخاب شوي دي .

[۲۹]

# بهارته

وینا وال : م ، پسرلی .

دخپریدو کال : ۱۳٦٤ - پسرلی

کچه : ۱۲×۱۸ سم .

مخونه : ٦

څرګنوالی : د روسانو له خوا د کندز په چار دره کښې د یوه کلي د بې دفاع خلکو په عامه وژنه د احساس او نښکې دي چې د غمګین او ویر ژلي شعر بڼه یې غوره کړې ده .



Ketabton.com

[۳۰]

## بهار مدینه

مصنف: قاري غلام حضرت خطيب.

مقدمه او اهتمام: نثار احمد نوري.

خپروونکی: د تاج محل نشراتي مؤسسه.

د چاپ کال: ۱۳۶۸ - وری.

کچه: ۱۲ x ۱۸ سم.

مخونه: ۱۰۸

څرنګوالی: د مرحوم قاري غلام حضرت د نعتیه شعرونو مجموعه.

[۳۱]

## بې سرنوشتان

د: جمال احمد لیکنه.

کچه: ۱۲ x ۱۸ سم.

مخونه: ۹۳

څرنګوالی: د کابل په زندان کښې د یوه بندي خاطرې او د بند د ترخو پیښو یاد دی.



Ketabton.com

[۳۲]

## د پلوشو ډالۍ

وېناوال: عیسی محمد عصمت قانع.

دچاپ کال: ۱۳۶۳

کچه: ۱۲x۱۸ سم.

مخونه: ۱۱۶

څرنګوالی: د شاعر د جهادي شعرونو مجموعه او د تود و احساساتو ادبي انځور دی.

[۳۳]

## پیغام

وېناوال: فضل الرحمن محسن.

دخپرېدو کال: ۱۹۹۰

کچه: ۱۲x۱۸ سم.

مخونه: ۱۹۱

څرنګوالی: د سره ښکېلاک د ناکړدو او ناوړو دودیو انځور دی چې بادرده انصار شاعر دخپل ضمیر له تل نه خپل ولس ته وړاندې کړي او هغوی ته یې د سره ښکېلاک د ماتېدو او د امن راتلونه پېري ورکړي دی.



Ketabton.com

[۳۴]

# پیغام

ویناوال: محمد موسی شفیق.

سریزه: الحاج ننګیال.

خپروونکی: فرهنګ جهاد

نېټه: ۱۳۶۷ - غویی

کچه: ۱۲×۱۸ سم.

مخونه: ۸۳

څرګنوالی: د شاعر پر ژوند او فن څېړنه ده او د ده د "پیغام" د شعرونو چې په ۱۳۳۷ کال په کابل کښې خپور شوی و، یوه انتخابي برخه پکښې راغلې ده.

[۳۵]

# تالنده او برېښنا

ویناوال: لطیف جان بابی.

د چاپ کال: ۱۳۶۵

کچه: ۱۲×۱۸ سم.

مخونه: ۱۳۹

څرګنوالی: د شاعر جهادي شعرونو لومړنۍ مجموعه ده.



Ketabton.com

[۳۶]

## تحقیق

### نمایشنامه اسلامي

لیکوال: محمد توفیق برکات.

ژباړن: ف. فاضل.

خپرونکی: دافغانستان دمجاهدینو اسلامي اتحاد (فرهنګي کمیټه).

دخپرېدو کال: ۱۴۰۵ هـ ق.

کچه: ۱۲×۱۸ سم.

مخونه: ۱۱۰

څرنګوالی: دځوانانو مسلمانانو دتحقیق جریان ښیي چې د سوریې داخوان المسلمین یوه غړي لیکلی او زموږ د موجود جهاد له پیښو سره ډېر ورته والی لري.

[۳۷]

## تصویر

ویناوال: حبیب الله رفیع

خپرونکی: (دامان کتاب خپرولو مؤسسه).

دخپرېدو کال: (۱۳۶۳)

کچه: ۱۲×۱۸ سم.



Ketabton.com

مخونه: ۳۰

څرنګوالی: دشاعر دجهادي قطعو مجموعه ده.

[۳۸]

## تلپاتې يادونه

ويناوال: توريالی ځاځی.

اهتمام: فرهنګ جهاد.

دخپرېدو نېټه: ۱۳۶۹ - جوزا

کچه: ۱۲ × ۸ سم.

مخونه: ۱۱۲

څرنګوالی: دجهاد هغه روايات، حکايات او خاطرې دي چې ليکوال ته رسېدلي او ده داد بې نثر يا نظم په جامه پسولي دي.

[۳۹]

## تنوير الاذهان

ليکوال: مياګل صاحبزاده.

خپرونکی: په خپله.

دخپرېدو کال: (۱۳۶۸).

کچه: ۲۵ × ۱۸ سم.

مخونه: ۱۱۰



Ketabton.com

څرنګوالی: د شاعر جهادي او انتقادي پښتو او دري شعرونه دي.

[٤٠]

# تودي اوښکي

د

مولینا محمد اکبر خادم په مزار

ویناوال: م. پسرلی.

دچاپ کال: ١٣٦٣

کچه: ١٢ × ١٨ سم.

مخونه: ١٥

څرنګوالی: د صوبه سرحد د نامتو مبارز شاعر محمد اکبر خادم په یادکښې د نثر او نظم مجموعه ده.

[٤١]

# تورزن تورن افغان

مؤلف: محمد عارف غروال.

خپرووںکی: دافغانستان ملي اسلامي محاذ.

دچاپ کال: ١٣٦٦ - لیندی.

کچه: ١٢ × ١٨ سم.



Ketabton.com

مخونه: ۵۲

څرنګوالی: د شهید تورن افغان ژوندلیک او دده په یاد شعرونه او ویرنی پکښی راغلي دي.

[۴۲]

## توره شپه
## اوسره وحشیان

خپروونکی: دافغانستان اسلامي حزب، فرهنګي کمیټه.

کچه: ۲۴×۱۵ سم.

مخونه: ۳۳ پاڼې

څرنګوالی: پرافغانستان باندې دسره کارد دوحشیانه تیری داو وکلو پوره کیدو په مناسبت. په پښتو او دري ژبو کښل شوي مطالب او تصویرونه د وانړه لري.

[۴۳]

## تیاري لاري رڼې کړئي

لیکوال: الحاج ننګیال.

خپروونکی: دافغانستان اسلامي جمعیت، فرهنګي کمیټه.

دخپریدو کال: ۱۳۶۷ - کب.

کچه: ۱۸×۱۲ سم.



Ketabton.com

مخونه: ۱۲٦

څرګنوالی: د لیکوال د جهادي داستانونو او کیسو مجموعه ده چې د جهاد د بیلابیلو برخو پیښې او وقایع(ئې) پکښې هنري او ادبي کړي دي.

[٤٤]

## جام نیاز

وېناوال: استاد خلیلي.

تهیه او ترتیب: سید حامد محمود علمي.

د چاپ کال: ۱٤۰۷ هـ ق

کچه: ۱٤×۲۱ سم.

مخونه: ۱۹

څرګنوالی: د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم په وړاندې منظومه ژړا او د ملت د حال انځور.

[٤٥]

## جګړه

وېناوال: لطیف جان بابی

د خپرېدو کال: ۱۳٦۷ هـ ش/ ۱۹۸۸ ع.

کچه: ۱۲ × ۱۸ سم.



Ketabton.com

مخونه: ۱۳۳

څرنګوالی: د شاعر د هغو پاکو احساساتو هینداره ده چې دخپل مقدس جهاد او ګران هیواد څېره پکښې وینو.

[٤٦]

## جهاد او مجاهد

(لومړی ټوک)

لیکونکی: مولوی ولاجان وثیق

دخپرېدو نېټه: ۱۳۵۹/۹/۲۹

کچه: ۱۲ × ۱۸ سم

مخونه: ۷۲

څرنګوالی: د جهاد او مجاهد په باب یوه لیکنه ده چې ځای پر ځای د مؤلف شعرونه هم پکښې راغلي دي.

[٤٧]

## جهاد او مجاهد

(دوهم ټوک)

مؤلف: مولوی ولاجان وثیق

کچه: ۱۲ × ۱۸ سم.

مخونه: ۲۱۳



Ketabton.com

ځرنګوالی: د جهاد او مجاهد په باب د مؤلف منظوم او منثور بردا شتونه پکښې راغلي دي.

[ ٤٨ ]

## د جهاد جذبه

### د غمګين د اشعارو ديوان

ويونکی: غمګين

خپرونکی: د افغانستان اسلامي جمعيت د فرهنګي کميټې د تأليف او ترجمې رياست.

د خپريدو نيټه: ١٣٦٦ - وړی

کچه: ١٨×٢٤ سم.

مخونه: ٢٢٤

ځرنګوالی: د غمګين د جهادي شعرونو مجموعه ده چې يوه برخه يې د الفبا په اساس رديف شوې او پاتې يې بې ترتيبه دي.

[ ٤٩ ]

## د جهاد جذبه

ليکونکی: مولوي قادر محمد کريمي.

خپرونکی: د افغانستان اسلامي حزب (د خالص ښاغلي مشري) فرهنګي کميټه.



Ketabton.com

کچه: ۱۲×۱۸ سم.

مخونه: ٤١

څرنګوالی: د مجاهد شاعر د جهادي او اسلامي شعرونو

مجموعه ده.

[۵۰]

## د جهاد ملغلري

د: مولوي شاه ولي مظلوم.

د: ضیاء المدارس سوغات.

د چاپ کال: ۱۳٦۵

کچه: ۱۲×۱۸ سم.

مخونه: ۱۳۳

څرنګوالی: د شاعر دیني، جهادي او د حرکت انقلاب اسلامي

په ستاینه کښې ویل شوي شعرونه دي.

[۵۱]

## د چشتي مخمسات

وینا وال: غلام فاروق چشتي.

د خپریدو کال: ۱۳٦۷

کچه: ۱٤×۲۱ سم.



Ketabton.com

مخونه: ۳۶۵

څرنګوالی: د بناغلي چشتي جهادي، تصوفي او عشقي مخمسونه دي چې زیات یې د خوشال خان خټک، رحمان بابا او استاد حمزه په غزلو جوړ کړي او په وروستی برخه کښې یې دري مخمسونه راغلي دي.

[۵۲]

## چند قطرهٔ اشک

بیاد مرحوم استاد خلیلي

شاعر: محمد حنیف حنیف بلخي.

کچه: ۱۲ x ۱۸ سم.

مخونه ۹۹

څرنګوالی: د ارواښاد استاد خلیلي ژوند لیک او هنر ته یو نظر او د ده په یاد او ویر کښې څلور قصیدې.

[۵۳]

## ځاله او توپان

لیکوال: محمد نسیم ستانیزی.

د چاپ کال: ۱۳۵۹

کچه: ۱۲ x ۱۸ سم.



Ketabton.com

مخونه : ۱٤۸

څرنګوالی : دلیکوال د نهو جهادي افسانو مجموعه ده چې زیاترې یې د هېواد د ننه دردوونکې او ځوروونکې پېښې انځوروي او له واقعیت نه رنګ اخلي .

[٥٤]

## د ځناورو فارم

یا

د روسي کمونیزم هینداره

لیکوال: جارج اروېل .

مترجم : ع ، رسول امین .

خپروونکی : دافغانستان دلیکوالو اتحادیه .

کال : نه لیکي .

کچه : ۱۲×۱۸ سم .

مخونه : ۱۸۳

څرنګوالی : دکمونستانو دحیواني خیرې په باب دمشهور ناول ترجمه ده چې په سمبولیک ډول کښل شوی دی .



Ketabton.com

[۵۵]

## دځیګروني

مؤلف: محمد ایوب غزګیوال.

دخپریدو کال: ۱۳٦۷

کچه: ۱۲x۱۸ سم.

مخونه: ۲۲۰

څرنګوالی: د شاعر د اولسي، عشقي او اجتماعي شعرونو مجموعه ده.

[۵٦]

## څوب

ویناوال: سمون (حبیب الله رفیع)

خپروونکی: د امان کتاب خپرولو مؤسسه.

دچاپ کال: ۱۳۵۸

کچه: ۱۲x۱۸ سم.

مخونه: ۳۰

څرنګوالی: د شاعر جهادي شعرونو لومړنۍ مجموعه ده.

[۵۷]

## حدیث خون

د: استاد عبدالرحمن پژواک.



Ketabton.com

سریزه : د حبیب الله رفیع .

ترتیب : د محمد روحاني .

خپروونکی : د امان کتاب خپرولو مؤسسه .

د خپریدو کال : ۱۳٦٤ / ۱۹۸۵

څرنګوالی : د شاعر د پخوجها دي غزلو او قصیدو مجموعه ده .

[۵۸]

## حکایات انتباهی
## لقمان حکیم

ژباړن : ډاکټر حفیظ الله سحر .

خپروونکی : کابل کتابفروشي .

د چاپ نېټه : ۱۳٦۸ - وږی ( دوهم چاپ ) .

کچه : ۱۲ × ۱۸ سم .

مخونه : ۱۸٤

څرنګوالی : د لسګونو اخلاقي ، انتباهي او پند لرونکو کیسو مجموعه ده چې په زړیوالو د بیاتو کښې لقمان حکیم ته منسوبې دي .



Ketabton.com

[۵۹]

## حماسهٔ جهاد

شاعر: حامد نوید.

خپرونکی: د آزاد افغانستان د لیکوالو اتحادیه، وفا.

د چاپ کال: ۱۹۸۹ - دسمبر.

کچه: ۱۲×۱۸ سم.

مخونه: ۱۹

ځرګوالی: د مثنوی په کالب کښې یې د جهاد پېښې او کیسې رانغښتې او ژوندۍ کړې دي.

[۶۰]

## خاطرات پریشان

ویناوال: دکتور عبدالحکیم طبیبي.

خپرونکی: نه لري.

کچه: ۱۲×۱۸ سم.

مخونه: ۷۴

ځرګوالی: د کتاب لومړۍ برخه د ښاغلي طبیبي د مهاجرت د دورې شعرونه دي او دوهمه برخه یې یوه مقاله ده چې د افغانستان د پښتو او دري ژبو شاعرانو د شعر عارفانه اړخ ونه



Ketabton.com

خپره‌ي .

[ ٦١ ]

## دخوږمن زړه پیغام

شاعر: ملا محمد حنیفي .

خپرونکی: مکتبهٔ علمیه .

دخپرېدوکال: ١٣٦٥

کچه: ١٥×٢٠ سم .

مخونه: ٤٣٢

ځرنګوالی: په مقام او سروتال برابر ویل شوی جهادي، عشقي او دیني شعرونه دي .

[ ٦٢ ]

## داستانهایی از جهاد

نویسنده: شعیب مجددی .

دخپرېدوکال: ١٣٦٦ - غویي

کچه: ١٢×١٨ سم .

مخونه: ٥٢

ځرنګوالی: دشاعر دجهادي منثورو او منظومو حکایتونو



Ketabton.com

مجموعه ده.

[٦٣]

## داسې هم وو

ليکوال: محمد صديق پسرلی.

خپرونکې: د سپيدې اداره.

د چاپ کال: ١٣٦٤

کچه: ١٢×١٨ سم.

مخونه: ١٥٥

ځرګوالی: د ليکوال د ١٣ جهادي افسانو مجموعه ده چې د هنر په خوږه ژبه د روسانو او د دوی د مزدورانو د ناوړه او وحشيانه کړو وړو ببلابېل اړخونه بيانوي.

[٦٤]

## دا هغه بالاحصار دی ...

وينا وال: فضل ولي ناګار.

خپرونکی: د افغانستان اسلامي حزب، د ارشاد او فرهنګ کميټه.

د خپرېدو کال: ١٣٦٧-ليندی ٦.

کچه: ١٤×٢١ سم.

مخونه: ١٤٤



Ketabton.com

څرنګوالی: د شاعر د جهادي، اعتقادي او اجتماعي شعرونو مجموعه ده چې د غزلو، نظمونو او څلوریزو په ویش او ډل - شوې ده.

[٦٥]

## درد دل

د: عبدالباري غیرت.

دچاپ کال: ١٣٦٦

کچه: ١٢×١٨ سم.

مخونه: ٢٧

څرنګوالی: د شاعر دری جهادي شعرونو مجموعه ده.

[٦٦]

## د سپین غرانګازې

شاعر: سید نعیم شاه مجاهد.

دخپرېدو کال: ١٣٦٥، کب

کچه: ٢١×١٤ سم.

مخونه:

څرنګوالی: د شاعر جهادي، هېوادي، انتقادي او د آزادۍ



Ketabton.com

شعرونه دي .

[٦٧]

## دل نالان

د: صوفي عشقري .

په اهتمام د: نثاراحمد نوري .

خپرونکی: قاري عاصمي اوتاج محل کمپني.

دخپریدو کال: ۱۳۶۶- چنګاښ ( دوهم چاپ ،

کچه: ۱۲x۱۸ سم.

مخونه: ۱۴۱

څرنګوالی: دار واښاد صوفي عشقري دحمدیه ،نعتیه او منقبتیه شعرونو مجموعه ده.

[٦٨]

## دوبیتی های هجرت

د: عنایت شریف .

د چاپ کال: ۱۳۶۱

کچه: ۱۲x۱۸ سم.

مخونه: ۳۵

څرنګوالی: د دري داولسي دوبیتیو په چوکاټ کښې د



Ketabton.com

يوه مهاجر شاعر د زړه فرياد دی .

[۶۹]

## دوچهره

نمايشنامهٔ تاريخی

ليکوال: دکتور يوسف قرضاوي .

ژباړن: ف . فاصل .

دچاپ کال: ۱/ ۵/ ۱۴۰۵ هـ ق .

کچه: ۱۲×۱۸ سم .

مخونه: ۸۲

څرګندوالی: د بني اميه په دوره پوري تړلې د حجاج د واکمنۍ د وخت په اړه تاريخي ډرامه ده چې د نوموړي واکمن له ظلم او وحشت نه پرده پورته کوي .

[۷۰]

## دوې مشاعرې

ټولوونکی: ننګيال

دخپريدو کال: ۱۳۶۳

کچه: ۱۲×۱۸ سم .

مخونه: ۷۰



Ketabton.com

څرنګوالی: په دې اثر کښې د «لمنه ونیوه» او «خبرې نه کوي» په ردیفونو د جهاد د ادبي سنګر د شاعرانو له خوا شوې مشاعرې راغونډې شوې دي.

[۷۱]

## دیوان عشقري

(لومړی ټوک)

ویناوال: صوفي عشقري.

سریزه: نثار احمد نوري

خپروونکی: تاج محل کمپني - پېښور.

د خپرېدو کال: ۱۳۶۷ - وری.

کچه: ۱۴ × ۲۱ سم.

مخونه: ۲۱۱

څرنګوالی: د روانې پېړۍ د دري د خوږژبي شاعر اروښاد صوفي عشقري د غزلو مردف دیوان دی چې د مینې نغمې او د تصوف چاشني لري.

[۷۲]

## دیوان حضرت غوث الثقلین

مشهور به دیوان غوثیه



Ketabton.com

مقدمه، تصحیح او اهتمام د : نثاراحمد نوري .

خپروونکی: محمد وسیم د تاج محل کمپنی مالک .

د چاپ کال : ۱۳۶۸ - لمریز

کچه : ۱۲ × ۱۸ سم .

مخونه: ۱۳۲

ځرګندونه: د حضرت غوث الثقلین مناجاتیه شعرونه دي چې په ضمیمه کښې یې سوانح او کرامات هم راغلي او مرتب غوث الثقلین صاحب ته د دې شعرونو په نسبت کښې شک نه لري .

[۷۳]

## دیوان مظهر

شاعر: جان جانان .

سریزه: نثاراحمد نوري .

خپروونکی: تاج محل کمپنې .

د خپریدو کال: (۱۳۶۷) .

کچه: ۱۵ × ۲۲ سم .

مخونه: ۱۳۵

ځرګندونه: د صوفي شاعر جان جانان د تصوفي او عشقي



Ketabton.com

شعرونو مجموعه ده.

[۷٤]

## رښتياني کيسي

ليکوال: استاد مرتضی مطهري.

ژباړن: محمد آصف صميم.

خپرووونکی: په خپله.

دخپريدو کال: ۱۳٦۳

کچه: ۱٤×۲۱ سم.

مخونه: ۷۸

څرنګوالی: په دې اثرکښې دحضرت محمد صلی الله علیه وسلم دژوند څو رښتينې کيسې چې پند اوعبرت او درس لري، راغونډې شوې دي.

[۷۵]

## ړمه

ليکوال: ډاکتر عمادالدين خليل.

ژباړن: ف. فاضل.

دخپريدو کال: ۱۳٦۷ - غبرګولی.

کچه: ۱۲×۱۸ سم.



Ketabton.com

مخونه : ۲٤

څرنګوالی : دکمونستي ګوند دغړو دیوې ډلې یوځنډ

انځوروي او ددوی طرز تفکر او برداشت را برسیره کوي.

[۷٦]

# رنځوري څرکې

ونیاوال : لطیف جان بابی.

خپروونکی : دامان کتاب خپرولو مؤسسه.

دخپرېدو کال : ۱۳٦۸ هـ ش / ۱۹۹۰ م

کچه : ۱۲ × ۱۸ سم.

مخونه : ۱٦۸

څرنګوالی : دشاعر دجهادي شعرونو شپږمه مجموعه

ده چې د هېواد داورونو، ویرونو او دردونو کیسې کوي.

[۷۷]

# روسي ښامار

د: محمد هاشم زماني اثر.

دچاپ کال : ۱۳٦۰

کچه : ۱۲ × ۱۸ سم.

مخونه : ۱٤۵

څرنګوالی : دشاعر د پښتو او دري شعرونو مجموعه ده



Ketabton.com

چې د هزاره جات، نورستان او د جهاد د نورو سیمو جهادي غورځنګونه یې پکښې اغځور کړي دي.

[۷۸]

## روسي ښامار.

د: نورالله لیکنه.

دچاپ کال: ۱۳۶۰ - سلواغه.

کچه: ۱۰× ۱۶½ سم.

مخونه: ۳۲

ځرنګوالی: د شاعر د جهادي شعرونو مجموعه ده.

[۷۹]

## زبان مردم
## اشعار رزمي

ویناوال: محمد اکبر شیدایي افغان.

خپرونکی: تاج محل کمپنۍ.

دخپرېدو کال: ۱۳۶۵ - غبرګولی.

کچه: ۱۸×۲۱ سم.

مخونه: ۱۲۱

ځرنګوالی: د شاعر دیني او جهادي شعرونو مجموعه ده.



Ketabton.com

[ ۸۰ ]

